په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو او روغتیاساتنې پروګرام

# میاشتنی

لړم

ګڼه (۴) ۲۴ لینډۍ ۱۳۹۸ مخ (۱)



## په نورستان ولایت کې (۸۷۰) کورنیو ته د څښلو پاکې اوبه برابرې شوې





د (۱۰ میلیونه او ۹۳۳زره او ۸۲۸) افغانیو په لګښت سره د نورستان ولایت په مرکز، وانټ‌وایګل او وامه ولسوالیو کې د څښلو د اوبو ځلور پروژې بشپړې او د ځایي اوسیدونکیو ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

د اوبو رسولو په دغو څلورو پروژو کې د اوبو رسولو د څلورو شبکو جوړول شامل وو چې د مرکز په شهرنو، د وایګل ولسوالۍ په هوز او شینه ګل او د واما ولسوالۍ په ارچنوعلیا کلیو کې جوړې شوې.

د اوبو رسولو د دغو پروژو په بشپړېدو سره په شهرنو کلي کې د (۳۷۳) کورنیو، په هوز کلي کې د (۱۵۵) کورنیو، په شینه‌ګل کلي کې د (۱۹۰) کورنیو او په ارچنوعلیا کلي کې د (۱۵۵) کورنیو لپاره د څښلو پاکې اوبه برابرې شوې.

د اوبو رسولو یادې شوې پروژې د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو او حفظ الصحې دملي پروګرام له لوري تطبیق شوې.

د یادونې وړه ده چې د دغو پروژو څه باندې (۷۰) سلنه بودجه د یونیسف اداري او څه کم (۳۰) سلنه بودجه یې د دولت له اختیاري بودجې څخه د مالیې وزارت لخوا ورکړل شوه.

## د ننګرهار ولایت د سرخرود ولسوالۍ اړوند په شیخ مصري ښارګوټي کې ۲۵۰ کورنیو ته د څښلو پاکې اوبه برابری شوې



د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو او حفظ الصحې د پروګرام له لوري د ننګرهار ولایت د سرخرود ولسوالۍ په شیخ مصري ښارګوټي کې د څښلو د اوبو یوه لمریزه شبکه جوړه او د هغه ځای د خلکو ګټې اخیستني ته و سپارل شوه.

په دغه پروژه باندی د ۲۵۵۹۶۷۶ افغانی لګښت راغی چې د مالیې وزارت لخوا ورکړل شو. د یادې شوې شبکې د جوړولو چارو د ځایي خلکو لپاره ۱۴۷۵ کاري ورځې ایجاد کړې او په جوړیدو سره یی د څه باندې ۲۵۰ کورنیو لپاره د څښلو پاکې او به برابري شوې.

## په قادس ولسوالۍ کې (۳۰۰) کورنۍ د څښلو د اوبو له نعمت څخه برخمنې شوې

د (۳میلیونه او ۲۶۴زره) افغانیو په لګښت سره چې د یونیسف د اداري لخوا ورکړل شو، د بادغیس ولایت د قادس ولسوالۍ په خلیفه ایاز کلي کې د څښلو د اوبو یوه لمریزه شبکه جوړه او د ځایي خلکو ګټې اخیستني ته وسپارل شوه. د یادې شوې پروژې په جوړېدو سره د خلیفه ایاز د کلي د څه باندې (۳۰۰) کورنیو لپاره په کورونو کې د نل پاکې اوبه برابرې شوې. په دغه پروژه کې د یوې ژورې څاه کیندل، د (۴۰) متره مکعب په ظرفیت سره د یوې ذخیرې جوړول، د (۳،۷۸۵) مترو په اوږدوالي سره د پایپونو د شبکې غځول او (۲۰) لمریزو تختو (سولرونو) نصبول شامل وو. یاده شوې پروژه د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو او حفظ الصحې د پروګرام له لوري تطبیق شوه.







# په کنړ او نورستان ولایتونو کې د څښلو د اوبو دوې شبکې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې






د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو او حفظ الصحې د پروګرام له لوري د کنړ ولایت د مروري ولسوالۍ په ګرداب کلي او د نورستان ولایت د نورګرم ولسوالۍ په کندو کلي کې د څښلو د اوبو دوې شبکې جوړې او د ځایي اوسیدونکیو ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې. د اوبو رسولو په دغو دوو پروژو باندې (۴میلیونه او ۸۰۰ زره) افغانۍ لګښت راغی چې د یونسف اداري لخوا ورکړل شوې. د اوبو رسولو د یادو شویو شبکو د جوړولو چارو د ځایي خلکو لپاره ۲۴۰ کاري ورځې ایجاد کړې او په بشپړېدو سره یې د ۴۰۰ کورنیو لپاره د څښلو پاکې اوبه برابرې شوې.

# په متون سیمه کې (۴۰۰) کورنیو او (۱۲۰۰) زده‌کوونکو ته د څښلو پاکې اوبه برابرې شوې

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو او حفظ الصحې د پروګرام له لوري د خوست ولایت د متون سیمې د کنډیو په ستر کلي کې د اوبو رسولو یوه لمریزه شبکه جوړه او د سیمې د خلکو ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه. په دغه پروژه کې د یوې ژورې څاه کیندل، د (۳ زره) مترو په اوږدوالي د پایپونو د شبکې غځول، د (۲۰زره) لېتره په ظرفیت سره د یوې ارتفاعي ذخیرې او د کنډیو دنجونو په ښوونځي کې د یوې بلې (٦زره) لېتره د اوبو ذخیرې جوړول، د (۳۰) سولري تختو او (۸۴) نل‌بندانونو نصبول شامل و. د یادې شوې پروژې په جوړېدو سره د کنډو د سترکلي د (۴۰۰) کورنیو او د کنډیو د نجونو ښوونځي (۱۲۰۰) زده کوونکو لپاره د څښلو پاکې اوبه برابرې شوې. په دغه پروژه باندې (۴میلیونه) افغانۍ لګښت راغی چې د دولت له بودجې نه د مالیې وزارت لخوا ورکړل شوې.





# په اسمعیل‌خېلو مندوزي ولسوالۍ کې (۱۳۰) کورنیو ته د څښلو پاکې اوبه برابرې شوې

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو او حفظ الصحې د پروګرام له لوري د خوست ولایت د اسمعیل‌خیلو مندوزي ولسوالۍ د شهباز خان کلي کې داوبو رسولو یوه لمریزه شبکه جوړه او ددغې ځای د اوسیدونکو ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه. په دغه پروژه کې د (۲زره) مترو په اوږدوالي د پایپونو د شبکې غځول، د (۲۰زره) لېتره په ظرفیت سره د یوې ارتفاعي ذخیرې ترمیمول د (۲۷) سولري تختو او (۲۶) نل‌بندانونو نصبول شامل وو. د یادې شوې پروژې په جوړېدو سره د شهبازخان د کلي د (۱۳۰) کورنیو لپاره د څښلو پاکې اوبه برابرې شوې. په یاده شوې پروژه باندې یو اعشاریه اووه (۱،۷) مېلیونه افغانۍ لګښت راغی چې د دولت له بودجې نه د مالیې وزارت لخوا ورکړل شوې.





